# افغانستان آزاد ـ آزاد افغانستان

## AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد   بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد

همه سر به سر تن به کشتن دهیم   از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com   afgazad@gmail.com


| سیاسی | Political |
|---|---|

بسمل

۰۳ می ۲۰۱۱

دملي اتل شهيد احمدګل پيلوټ جنازه خاورو ته وسپارله شوه

درنو او عزتمنو خويندو ورونو!

دسولي ويبلاګ ته دعظمت الله په نوم زموږ يو هيواد وال ديوي تبصري په طرځ کي داډ راکړی چي د ملي اتل پيلوټ احمدګل شهيد جنازه دنږدي۱۵۰۰۰ زرو ګډونوالو لخوا په ډېر درنښت سره خاورو ته وسپارله شوه .

هيله من يو چي ښاغلی عظمت الله په دي اړوند مفصل احوال راکړي تر څومکمل جريان هيوادوالو ته خپور کړو.

دملي اتل شهيد احمدګل پيلوټ روح دي ښاداو دجنازي ګډونوالو ته دي الله پاک اجرونه ورکړي .

ديادولو ده چي ښاغلي عظمت الله پرون دمی په دوهمه نيټه دښاغلي محمدنقيب تره خېل دليکني په ځواب کي ادا لاندي تبصره ليکلي وه .

GRANA WRORA NAQIB JANA DERA ZEYATA MANANA STASO DA GHAM . SHERIKE SAKHA

GRANA .DA HAJI AHMAD GUL JANAZA NAN ۲-۵-۲۰۱۱ DA TARAKHILO DA GADOON PA DERA SHANDARA CHI TAQRIBAN ۱۵۰۰۰ TOLO QAWMONO PA KHAWRO TA WASPARAL KASANO PA GADOON TAR SARA SHWALA AW SHOO ROH DI KHAD WE .DEER ZEYAT DA ALLA HO AKBAR PA NARO SARA .DA JANAZI LMONZ TAR SARA SHO

ENNA LIL LAHI WA ENAA ELYHI RAJIHOON

بايدزياته کړوچي دمحمدنقيب تره خېل ليکنه ددي سبب شوه چي دمی په لمړۍ نيټه په جرمني کي موږ بايرن مېشتي افغانان خپل شديد احتجاج ليک د رسنيو له لارې امريکايانو او دکابل پردېيالي اداري ته ورسوو.

موږ د ټل افغان، آزاد افغانستان او نورو ويبپاڼو له چلوونکو څخه مننه کوو چي زموږ احتجاج ليک يې بې له ځنډه خپور کړ .

http://nakhtar.bloguna.tolafghan.com/posts/۱۵۴۹۹